سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۵/۱۰/۱۶

# د پښتونولۍ حقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوژیک بنسټ

## نهمه برخه

لیکوال: ایټالیوي مورخ، تاریخپوه، سیاستپوه او توکمپوه ښاغلي اندرې چیوندا دی. ښاغلي لیکوال د ایټالیا په وسله وال پوځ کې د ۱۹۹۹ تر ۲۰۰۴ کالونو پورې په بوسنیا، کوسوا، افغانستان او عراق کې د دندہ تر سره کړې ده. ده د یو تکړه خبریال په توګه د نوموړو هیوادونو څخه خبرونه او رپوټونه چمتو کول او را لیږل. دی اوس مهال د خپلې دوکتورا په لیکلو باندې کار کوي.
د ده دوکتورا موضوع ،،د پښتني دودونو او نورمونو اړیکې له مدرن حقوقي سیستم سره پرتله کول،، دي.
ژباړه: د انګلیسي ژبې څخه الماني ته میرمن انا لتڅ او له المان ژبې څخه پښتو ته سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

## د افغان په څوان دولت کې د پښتونولۍ زوړ دودیزه قانون

لر او بر افغانستان کې د پښتونولۍ لرغوني موجود دودنه، ارزښتونه، د منځګړتوب خبرې اترې او د روغې جوړې ښکاره نرخونه او نورمونه له پیړیو پیړیو راهیسې د پښتنو تر منځ د یو نسل څخه بل ته لیږدول کیږي او د دوی د ټولنیز ژوندانه اړیکې او راکړه ورکړې تنظیموي او شکل ورکوي. دغه دودیزه ارزښتونه او نرخونه د پریکړو پر مهال انعطاف منونکي او بدلون منونکي هم دي. پښتني ارزښتونو کې بدلون نه یواځې د اوږدې جګړې د پایلو له امله را منځته شوي. بلکې افغانستان په دې نه دی توانېدلي، د پښتونولۍ نورمونه، ارزښتونه او د مورال کوډکسونه، چې د یوې زیرمې په حیث موجود دي.د خپل دولت په جوړښت کې په سمه توګه وکاروي.
له همدې امله افغاني مورالي حقوقي نورمونه او کوډکسونه د نړیوالو مدرنو حقوقي نورمونو له سیستم سره سمون نه خوري. د افغانستان په لر او بر کې د پښتونولۍ فلسفي مفهوم یا افغانیت د پښتنو افغانانو تر منځ د یو ګډ ملي پوهاوي په رامنځته کولو کې د ټولو لپاره یو مشترک مفهوم دی. له همدې امله پښتونولي ټولو پښتنو ته یو ټولمنلي ارزښتمن مفهوم دی. پښتانه د پښتونولۍ د تورۍ په اوریدو سره خپل سر د موافقي یا هوکړې په توګه ښکته پورته کوي. ځکه د پښتونولي فلسفي مفهوم افغانانو ته د یو ګډ لرغوني پښتني میراث ور په یاد وي.
په واقعیت کې دا پښتني کلمه ،،پښتونولي،، پښتون اوسیدل یا د پښتونتوب مانا ورکوي. په ریښتني توګه پښتونولي پښتون ولس ته یو جامع، مفصل تصور وړاندې کوي او د پښتنو افغانانو ترمنځ د یو ګډ ملي، ټولنیز یووالي تړون مانا او مفهوم ارائه کوي. په لر او بر افغانستان کې پښتونولي په همدې مانا او تعریف کې د درست پښتون افغان ولس له خوا پېژندل کیږي. له همدې امله د پښتونولي نوم د همدې قومي ګروپ یا د ټبر د غړو له خوا په ورځنې ژوند کې ډیر نه اخیستل کیږي: ځکه په ښکاره ډول داسې مالومیږي، چې دغه ګډ پښتني میراث د ټولو پښتنو له خوا منلي شوي دی او دوی مجبور نه دي، چې هره ورځ په ځانګړي ټینګار سره ترینه یاده ونه وکړي. د پښتنو په پرتله بهرنیان په ځانګړي توګه لویدیځوال د پښتونولي له نامه څخه ډیره یادونه کوي او په دې برخه کې څیړنې کړې دي.

اټکل د ۳۵ څخه تر ۴۰ میلیونه پښتانه په لر او بر افغانستان کې ګډ ژوند کوي.،، پښتانه په نړۍ کې د خپل قومي او قبایلي نظم سره یو ستر قومي ګروپ پېژندل کیږي،، پښتانه د خپلې ګډې ژبې او ګډ مذهب تر څنګ خپل یو پښتني مورال او د کوډکسونو یو ګډ سیستم لري. دوی د خپلو ټولیزو نورمونو او ارزښتونو لپاره خپل یو ګډ سیستم رامنځته کړي دی، تر څو دوی د خپل ژوندانه ورځنۍ ګډې چارې او خپلې راکړه ورکړې او خپل کړه وړه د پښتونولي په



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ټولنيزه قانونغوندېه او ټولمنلي قاعدو کې سره تنظيم کړي. پښتانه د همدې نرخونو او نورمونو مطابق خپل شخصي اوعمومي ژوند اعيار وي.
حداقل پښتانه په دې ګروهه دي، چې پښتونولي د ټولو پښتنو د ژوند په ټولو چارو کې باید عملي شي. اما په حقيقت کې د پښتنو د پښتونولی د مورال کوډکسونه لا تر اوسه نه دي ليکلي شوي او بدلون نه مونونکي هم دي. د پښتنو د پښتونولي ډېر بنسټيزه اصول په سويلي اسيا کې له ډېرو نورو قومونو څخه پر مختللي دي.
په لويديځ کې په لومړي ځل د پښتنو د پښتونولي اصولو ته د يو ځواکمن قانون په توګه مشابعت ورکول او يا د قانوني اصولو سره سم پرتله کول تعبيرول او تصور د انګريزي کولونياليستي چارواکو له خوا شوي دی. کله چې دغه دواړه ولسونه د نولسمي پيړۍ په منځ کې له يوبل سره مخامخ شول. د انګريزانو په کولونياليستي چارواکي باندې د پښتنو د پښتونولي اصولو څښت ډېر اغېز کړي وه. سيمي ته د انګريزانو د پلټنو لومړني ليږل شوي ډله او له دوی څخه ورسته د انګريزي امپراتورۍ پوځي افسرانو باندې پښتونولي په جوته توګه د پاموړ اثرات شيندلي وه.
ظاهراً په انزوا کې ساتلي شوي پښتانه قبايل، چې د انګريزانو د اشغالي هڅو په وړاندې په پښتني وسله وال مقاومت کې درېدلي وو، دوی انګريزي افسران څښت ډېر تر خپل شديد اغيز لاندې راوستلي وو. د پښتنو په اړه انګريزانو په خپلو ليکنو او پلټنو کې يو ډېر په زړه پوري، جذاب انځوريزه طرحه وړاندې کړي ده.انګريزانو له همدې امله د پښتنو د زوړفکر څخه يو په زړه پوري انځور، چې د يو شرقي رومنتيکي بهرنۍ کليشيوي انځور سره سمون خوړلو، په نښه کړي دی.
د پښتنو ځيني نورمونه او ارزښتونه له همدې مهاله په نړۍ کې مشهورشول او وپيژندل شول او تر ننه د توکمپوهانو سره خوندي پاتې شوي دي: د پښتنو په اړه بايد لومړی دې ټکي څښت ډېر پام وشي، چې د يو پښتون پت او عزت بايد خوندي وساتل شي او همداسې د ده د کورني عزت هم بايد خوندي وساتل شي. دا د يو پښتون عزت دی. يو پښتون تل دې ته چمتو دی، چې د هر ناوړه او يا ناروا عمل په وړاندې مقابله وکړي دا هم د ده غيرت دی.هر څوک، چې د ده عزت او د ده د کورنۍ عزت ته د ورنږدې کيدو تکل لري. د داسي يو عمل په وړاندې دی مجبور کيږي، چې په خپل ټول زور سره خپل بدل واخلي. يو پښتون له هغي چا څخه بدل اخلي، چې دی او د ده کورنی يې بې عزت کړي وي. له دغې غبرګون سره د ده د کورني غړي هم مخامخ کيداي شي. په دغه صورت کې بيا د بدل خبره نه رامنځته کيږي.
يو اصيل اصولي پښتون مجبور دی، چې د هر ميلمه څخه ميلمه پالنه وکړي او په خلاص زړه ورته ميلمستيا ورکړي. هر څوک چې د يو ريښتني پښتون کور ته پناه وروړي، دی مجبور دی چې پناه ورکوي، ان د خپل سر دښمن ته په خپل کور کې پناه ورکوي. ننواتي اکثراً د يو لړ مراسمو په تر سره کولو سره تر سره کيږي. هر څوک چې يو پښتون ته په ننواتي ورشي، دی خپل ځان د پنا ورکونکي په واک اواختيار کې ورکوي. پښتنه ټولنه کې په همدې ډول ټولنيزې شخړې او کړکيچونه هواريږي. د بيلګې په ډول د شخړې يوه خوا د بل کور ته په ننواتي ورځي، په تيوريکي لحاظ د شخړې بل اړخ مجبور دی، چې ننواتي ومني او را منځته شوي کړکيچ ته د تل لپاره د پای ټکی کېښودل کيږي.
پښتانه قومي مشران او سپين ګيري په کورني چاپيريال کې او په کليوالي ټولنه کې بې له قيد او شرطه واک او اختيار لري. کله چې په کليوالي چاپيريال کې يو چا ته مادي او يا منعوي زيان رسيدلي وي او يا څوک د خپل حق غوښتلو اراده ولري، دی د عدالت بيرته راوستو لپاره سپين ګيرو ته ورځي. په دغه صورت کې سپينګيري يوه جرګه راغواړي، جرګه د لانجي د دواړو غاړو څخه واک او اختيار اخلي او په رامنځته شوي پيښه باندې له سره غور کوي او د حل يوه مناسبه لار ورته مومي.
يوغير عدلانه چلند، اما هر څوک کولي شي د کلي محکمي ته ورشي.له همدې امله ښځې د کلي جرګې يا محکمي ته ورځي.
دولتي محاکمو ته د ښځو نه ورتګ او عدلي ادارو ته د نه لاسرسی لاملونه ډېر دي. د بيلګې په ډول محاکم ډېر جګ مالي مصارف غواړي، د لرو او اوږدو لارو شتون يي بل لامل دی، د قانون څخه د خلکو ناخبري، په ټولنه کې دولتي محاکمو ته په بده سترګه کتل کيږي، رسمي محاکمو ته د ښځو ورتګ دوی په ټولنه کې د ټولنيزې انذوا سره مخامخ کيږي او له دې څخه ښځې ويره لري. د جرګو ښه والي د جرګو په ساده توب کې دی. د خلکو سره وخت نشته او په جرګو کې د خلکو د شخړې يا لانجې ډېر ژر فيصله کيږي. داسې نور لاملونه شته دي، چې ښځې په بې وزلو هيوادو کې د شخړو پرمهال رسمي محاکمو ته له ورتګه ډډه کوي.اکثراً ښځې د شخړو پرمهال سيمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بیزو نارسمي مراجعو ته مراجع کوي، کله چې دوی په کورني چاپېریال کې له شتو ستونزو سره مخامخ شي او یا د یوې ښځې څخه غلا شوي وي، ښځې د کلي مشر ته او یا د کلي دیني عالم یا مذهبي مشر ته ورځې.

International Development Law Organiszation (IDLO)

د دې اداري د یوې سروې له مخې په ورسته پاتو هیوادو کې د دعوو د پنځو قضیو څخه څلور قضیې د کلیوالي محاکمو او یا د کیوالي جرګې له خوا فیصله کیږي .دغې سازمان په افغانستان کې هم سروې تر سره کړې ده. د پوښتل شویو افغانانو څخه ۷۳ سلنه وګړو سیمه بیزو جرګو ته د ورتللو علت داسي بیانوي، دوی ته په سیمه بیزه کچه سیمه بیزه جرګې یا شوراګانې د اعتماد وړ ځکه دي، چې دغه جرګې د سیمه بیزو نورمونو او ارزښتونو پر بنسټ خپلې عدلي پریکړې کوي. دغه لار د ښځو لپاره یو دوه اړخیزه توره یا شمشیر دی. دا خبره سمه ده، چې ښځو ته په جوته توګه په نارسمي جرګو کې د جوړجاړې خبرې اترې په ګټه تماميږي، د دغو جرګو موخه دا وي، چې په کورني او ټولنیز چاپېریال کې همغږګي باید ساتل شي.هممهاله په دغه ډول حقوقي سیسټم کې د ښځو سره توپیري چلند کیږي. ځکه په یوه نارینه پاله ټولنه کې دودیزه جوړښتونه تل جوت ساتل کیږي.او د ښځې حقوقو ته په کې په کمه سترګه کتل کیږي ځینې وخت داسي هم پیښیږي، چې د یو تر سره شوي جرمي جنایت په بدل کې یوه ښځه یا یوه پیغلې نجلۍ د جبران خسارې په توګه په بدو کې هم ورکول کیږي.

ښځې مجبورې دي، چې د خپلو حقوقو په اړه پوره مالومات ترلاسه کړي او دوی ته جرئت ورکړل شي، تر څو دا ډول کړنې او فیصلې تر پوښتنې لاندې راولي. د دې سروې په اړه د دې نړیوال سازمان جنرال سیکرترۍ اغلې ایرینه خان وايې: ښځې کولالي شي، په دې برخه کې د لانور فشار څخه کار واخلي، تر څو د دوی د حقوقو څخه په دغه ډول دودیزه سیسټم کې ښه ساتنه وشي. په دغه څېړنه کې د یوې ښې بریالي بیلګې څخه یادونه کیږي. د نامیبیا هیواد د اوکوامبي په ولایت کې ډیرې ښځې په دې توانیدلې دي، چې ځانونه سیمه بیزه دودیزه مشرۍ ته ورسوي. د ښځو شتون په محاکمو کې باید ډیر شي.او د کلي مشر په دې وپوهول شي، چې ښځې هم په مساوي ډول حقوق لري.دا ټول د دې لامل ګرځي، چې په دودیزه نرخونو کې د شخړو د حلوفصلو په بهیر کې د ښځو سره په عدالت کې مساوي چلند وشي.

د لر او بر افغانستان په شمال او جنوب کې دغه ارزښتونه، دودنه، نورمونه او کړه وړه د پښتنو د شخصیت انځور او د پښتنو د نړیوال انځور برخي جوړوي. هو ولې نه پښتنو هم په نړۍ کې خپل د ارزښتونو یو عالي ایډیالي موډل را منځته کړي دی. دا چې ولې دا نورمونه نه څارل کیږي او یا هم کله کله دغه نورمونه او ارزښتونه په جدي توګه پلي کیږي او په ټولنیزو کړه وړو کې ترینه استفاده کیږي، بیا هم دغه ارزښتونه د پرلپسې خبرواترو په بهیر کې د سیمه بیزو شرایطو په وجه او د شخړې د یوې یا بلې خوا د لیوالتیاوو لپاره تاکل کیږي. ځیني دودیزه ارزښتونه د ځینو ځانګړو ځانګړتیاوې او د ځینو خاصو شرایطو لپاره نوي تفسیر کیږي او نور بیا د تل لپاره له لاسه ورکول کیږي. دا له منځه تللي نورمونه او ارزښتونه نوره د پښتنو د دودیزه رواجونو، سنتونو او عنعناتو برخه نه ګرځي.

د پښتنو په څواکمنه نارینه پاله ټولنه کې ښځې په سیاسي او عامه چارو کې ډیر لږ رول لوبوي. د ښځو بدمرغي د هغې د کړو وړو او د کورني د عزت سره هم تړو لري. پښتنو کې یوه کورني هغه مهال یوه با عزته کورني شمیرل کیږي، کله چې دوی د کور پر ښځینه غړو باندې قوي نظارت ولري. نجوني ډیر ژر وادیږي او یا اکثراً د یولسو او دولسو کلنو په منځ کې د چا په نوم کیږي. د ژنکیو یا هلکانوسره همداسي چلند کیږي، خو لږ ورسته واده کیږي. نجوني ته د دولسو یا دیارلسو کالونو پوري په کورني چاپیریال کې لږ ازادي ورکول کیږي. ځیني ښوونځیو ته هم ځي. خو کله چې واده وکړو او یا د واده عمر ته ورسیږي، دوی بیا له عمومي نظر څخه ورکې کیږي او سطر کوي. دوی د یوې پیغلې ښځې ژوند پیلوي. دا په دې مانا ده، چې دوی باید په خپل کور کې کیني او په کورنیو چارو کې برخه واخلي. دوی اجازه لري او کولي شي د ځانګړو محافلو پر مهال د یو شرعي محرم سره په بورکه کې د کور څخه بهر ووځي.

د پښتنو د کورنۍ ټولیزه سیسټم په( پټري لوکال )یا د خسرګاني سیسټم باندې بنآ ایښودل شوي دی، په دې مانا چې واده شوي ښځه د میړه د پلار کور ته ورځي. په بله وینا واده شوي ښځې د میړه له کورني سره او یا د میړه له مور سره ګد ژوند کوي. ناوي د میړه په کور کې د کور د مشرۍ ښځې تر څارنې لاندې وي .واده شوي ښځه د خپلې کورنۍ سره هغه مهال اړیکې نیولي شي او یا ورتلي شي. چې کله د میړه د کورنۍ څخه ورته اجازه ورکړل شي. طلاق یواځې د میړه په خوښه شوني دی. ښځه په خپله نشي کولي طلاق واخلي. د واده شوي پیغلي ښځې سره د میړه په کورنۍ کې کله نا کله د هغې ښځې له خوا ناوړه چلند کیږي، کومي چې د میړه په کور کې د پخوانه د څه ویلو برلاسي حقونه ځانته خوندې کړي وي. دود پالنه د ښځې یو مهم معیار دی، چې په هغه کې د ټولې کورنۍ پت

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او عزت کچه محاسبه کيږي. د ځواني واده شوي ميرمن يوه تيروتنه يا يو بې ځايه قدم کيداي شي، چې د ټولې کورنۍ عزت او درنښت تر پښو لاندې کړي. د بېلګې په توګه کله چې يوه ځوانه ښځه يواځې په بازار کې د خوراکي توکي رانيونه کوي او هغه په همدې مهال د کوره بهر د يو پردي سړي سره د خبرو کولو په حال کې وليدل شي. همدا کافي ده، چې د کورنۍ ښه نوم د تل لپاره بد شي، له دې عمل سره ښځې ته سزا ورکول کيداشي. د ښځو څارنه او ورسره سختګيره چلند هم د پښتونولي يوه برخه ده. دا ټول دې پورې هم اړه لري، چې دوی دغه حالات په څه ډول ويني او ارزوي، دا د پښتنو يوه ځانګړې ځانګړنه ده.

د دې سره سره پښتونولي د نورمونو او ارزښتونو قانونغونډه يوه داسې ټولګه نه ده، چې هر څه په تيره کې يا لکه کاڼي کرښې په څير ليکلي شوي وي او يا د يو قانون کتاب په څير ليکلي شوي وي او هر څه بايد د قانون په څير خامخا ټکی په ټکی پلې شي.

د پښتونولي د مهمو پرنسيپونو او کانسپتونو په چوکاټ کې د دروغي جوړې او يوې منلي شوي پريکړې ته د رسيدو لپاره ډير پرګماتيک هراړخيزه عملي توکي شتون لري. پښتونولي د سيمې خلکو د عنعناتو سره سم، د هماغه وخت او زمان د اړتياوو مطابق د يو کړکيچ په هواري کې د سوله ييزو خبرواترو له لارې د حل مناسبې طرحې هم لري. څه شي چې ديرش کاله پخوا د پښتنو په سختګيره اخلاقي اصولو کې او د پښتونولي په مهمو نرخونو او ارزښتونو کې نه منونکي وو، کيداي شي چې نن دوی ته سم وبريښي. کيدای شي چې دوی ته اوس مهال خورا ډير مهم وګرځي او د دوی د خورا اړينو توکو څخه وشميرل شي. د يو ولس يا يو ټبر داخلي ټولنيز جوړښتونونه تل د بدلون په حال کې وي او همداسې دوی خپل ځانونه د نويو واقعيتونو او د شرايطو له څرنګوالی سره سم اعياروي.

د پښتنو په ښارونو کې بهرنی اغېز ځښت ډيرجوت ليدل کيږي. که څه هم د دولت کمزورې حاکميت د کليوالي سيمو په پرتله په ښارونو کې لږ ډير محسوس کيږي او په ښارونو کې د زده کړي شونتياوې لږڅه بهتره ده. دلته د يو عاليقدر، درونډ، با عزته او قدرمن ښاري پښتون افغان څخه د ښاري ژوند تمه کيږي او دی خپل ټول ژوند او خپله کورنۍ په يوه داسې طريقه تنظيموي، چې يو کليوال پښتون ته به د ژوند دغه ډول ناسم وښکاري او يا د ژوند دغه بڼه ورته ډير ازاد خيالە وبريښي. ښاري پښتون خپلې لوڼي ته اجازه ورکوي، چې ښوونځيو ته لاړې شي. ان تر دولسم ټولګي پورې زده کړې کولي شي.ځامن يې پوهنتوني زده کړې کولي شي او نورو ښارونو ته د ژوند لپاره هم تللي شي.

يو ښاري پښتون د کړکيچ يا شخړې په صورت کې کولي شي پوليسو ته ورشي او د سپين ګيرو د جرګو په ځای محاکمو ته تللي شي. دی مجبور نه دی خپله لور په کم عمر کې واده کړي. دی نوره مجبور هم نه دی، چې زوم يا د لور ميړه د ده له کورنۍ يا خپلوانو څخه وي.

هغه پښتانه چې خپل ځانونو ته د ژوندانه دغه ډول غوره کړي دی، دوی په هيڅ مانا دا نه احساسوي، چې دوی د نورو پښتنو په پرتله پښتونتوب يا پښتونولي ته لږ وفاداره دي. دا ممکنه ده، چې دوی هغه پښتانه چې په کليوالي او لرو پرتو سيمو کې ژوند کوي او د پښتونولي په نورمونو او ارزښتنونو باندې ټينګ ولاړ دي، د ناخبره، ورسته پاتې او يا له ښاري تمدن څخه لرې پاتې شويو په سترګه وګوري. لنده دا چې په هغه تصوراتو او فکرونو کې چې يو اصيل پښتون چې څه بايد وکړي او څه بايد ونه کړي د وخت او زمان سره، د استوګنځي يا د ځای بدليدو سره خامخا په کې بدلون راځي.

له همدې امله تر اوسه ناشونې شوې ده، چې افغان دولت د پښتونولي نورمونه او قاعدې رسماً په يوه قانوني بڼه کې تصويب کړي او يا دولت د پښتونولي د قانون او د اصولو تګلاره په خپل عدلي او قضايي سيسټم کې شامله کړي.

پښتونولي ته اکثراً د يو ډول ناليکل شوي جزايي قانون په څير کتلي شوي دي، دا کتاب په خپل ډول کې د خپلو د ځانګړو طريقو اوکړنلارو له امله د جزأ قانون په نامه هم ياديږي.

اصلاً د پخوانه پښتانه په افغانستان کې پرته له هر ډول دولتي لاسوهنوڅخه خپل ژوند کړي دی. پښتانه اصلاً د يرغلګرو په کولونيالستي مستعمرو کې ژوند نه دی کړي. له همدې امله پښتانه له ډيره موده راهيسې په دې توانيدلي دي، چې يو خپلواک سيسټم د خپلو ټولنيز چارو د کنټرول او سمبالښت لپاره په پښو ودروي. دا خپلواک سيسټم د پښتنو د مشرتوب، د پښتنو د سپين ګيرو اتوريتي حاکميت او همداسې د پښتني کولتوري ارزښتونو څخه خوندي ساتنه کوي. د پښتنو دغه سيسټم په عمومي توګه پر هغو قانوني هداياتو، لارښونو او فرمانو باندې ټينګ ولاړ دی، چې تر ټولو د مخه د نارينه او ښځينه د جنسيت ترمنځ د ناوړو اړيکو سزا ټاکي. د پښتونولي قانونغونډه په خپل ماهيت او اساساتو کې د پښتنو خپل لرغوني، کولتوري، دوديزه نرخونو او نورمونو پر بنسټ رامنځته شوي ده.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

پښتونولي تر ډېره بريده مشروعيت د اسلام د سپيڅلي دين پر بنسټ خپل ځان ته ارائه کوي، که څه هم د پښتنو ځيني ناوړه دودونه د اسلامي شريعت سر په ټکر کې هم دي.
دا خبره بلکل سمه ده، چې د جرګې په سيستم کې ځېنتي ډېرې دولتي قاعدې او کړنلارې شتون لري. جرګې او مرکې په سيمه ييزه کچه بې شميره ډولونه لري. دا بيا د سيمې له تاريخي شرايطو او د قبيلو له غوښتنو سره تړو لري، کومو چې د ارزښتونه دغه ډولونه را منځته کړي دي.
د پيړيو په بهير کې حق او عدالت او د جوړجاړي لپاره د منځګړتوب کړنلارې په محلي او د سيمه ييزه کچه په خپلواکه ډول وده کړې. په عمومي توګه که څه هم دغه حقوقي نورمونه او قومي ارزښتونو پر بنسټ د موراليي هدايتونو په بنسټ يو ډول را منځته شوي دي.
د ساري په ډول د پکتيا ولايت په يوه قبيله کې داسي يو نرخ هم شته، چې د جرګې د پريکړې پر بنسټ يوه نجلي بلي کورنۍ ته د بدو په بدل کې ورکول کيږي. تر څو رامنځته شوي خساره يا ګناه بيرته جبران کړل شي .همدغه ګناه يا جرم د ننګرهار ولايت په يوه بله سيمه کې د پيسو په بدل کي بيرته جبران کيږي. دلته بيا په بدو کې خپله لور ورکول يو نه ښوونکي جرم دی.
د پښتون په ټولنه کې پريکړه کونکې ارزښتونه اخلاقي ارزښتونه دي، له يوې خوا دا ارزښتونه د پښتنو په ټولنيز ځانګړتياوې باندې ټينګ ولاړې دي او له بلي خوا د دوی د کړکيچ د حلولو د سيستم پر بنسټ باندې پريکړه کيږي.
د پښتونولي دغه قاعدې د لويديځ له قوانينو سره تر ډيره بريده سمونه نه خوري. پښتنو کې د نارينه او ښځينه جنسيت اړيکې ډيرې سختګيره نارينه پاله ټاکل شوي دي. له همدې امله ښځې د نارينو په پرتله هيڅ حقوق نه لري.
داسي يو چلند د يو نوي مډرن دولت له حقوقي سيستم سره اړخ نه لګوي. يو مډرن دولت مجبور دی، د خپلو ټولو وګړو د حقوقو خوندي ساتنه پرته له جنسيت او عمر څخه وکړي. پښتنو ته دا ستر مانا لري، چې د نارينه په شان کړه وړه له ځانه وښيې. اکثره داسي کړوه وړه له تاوتريخوالي سره مل وي. دا ډول ځان ښودنه په عمل کې ښيې، چې په خپل سر بدل اخيستل کيږي او د کورنيو ترمنځ شخړو او دوعوې ته لاره پرانستل کيږي. داسي عملونه په يو قانوني دولت کې نه زغمل کيږي، يواځې دولت کولي شي د يو ځانګړي تعريف له لارې د تشدد انحصار يا د زور استعمال ځواک په خپل لاس کې واخلي او دولت کولي شي قانوناً د سزا ورکولو حق ځانه ته خوندي کړي.په ډاډمنه توګه بايد وويل شي. چې پښتانه به صبر ونه کړي، کله چې قانون د دوی له ليوالتياوو سره سمون وخوري، د عمل کوونکې دولتي حقوقي اورګانونو څخه به په شا هم نشي. که څه هم د دولت دغه حقوقي اورګانونه له نيمګړتياو او بې اغيزتوب څخه کړيږي. خو په دې اړه خپله دوی په خپلواک ډول په يوه يا بله قضيه کې پريکړه کوي.
څه شي چې ديرش کاله مخکې د پښتنو په سختګيره اخلاقي ټولنه کې او د پښتونولي په مهمو نرخونو او ارزښتونو کې نه منونکې وه، کيداي شي چې نن ور ته سم وبريښي او دوی ته به اوس خورا ډير مهم وي او د دوی د خورا اړينو توکو څخه وشميرل شي.
د پښتونولي قانون ليکلو په لاره کې او يا پښتونولي د دولت په عدلي او قضايي سيستم کې رسماً شاملولو په لاره کې يو بل خنډ هم شته. پښتونولي لا تراوسه د دولت د قوانينو په پرنسيبونو کې شامله شوي هم نه ده. پښتونولي همداسي په خپل قوت سره ژوندی پاتي شوي ده.او په خپله خپل ځانته ځواک مومي. د افغانستان دې ورستيو پرلپسې پنځه ډيرشو کالونو د بربادوونکې جګړو په پښتونولي کې هم خپل ويجاړونکي اغېزې او علايم پرښودلي دي. د دغو جګړو هم د پښتنو په کړو وړو کې ستر بدلون راوستي دی او جګړو خپل ځواکمن منفي اِثرات په پښتنو کې پريښيي دي. اوس وخت د دې رارسيدلي دی، چې د پښتنو د اخلاقي ارزښتونه د لمنځه تللو لاملونه رابرسيره شي.
پښتنه ټولنه په افغانستان کې په دې ورستيو دريو لسيزو کې په ډراماتيک ډول بدله شوي ده. په پښتنه ټولنه کې د سلګونو کالونو راهيسې د مشرتوب، مشرولي او د سپين ګيرتوب اغيزمن ځواک شتون درلود، د پرلپسې استراري بيړنۍ حالاتو او د تاوترخولي څخه ډکې خونړۍ جګړې د دې لامل شوې، چې د ولسي مشرانو ځواک او اغيزې يوې بلې ډلې ته وليږدول شي، دا ډله يوه د پوځي مشروالي وسله والې ډلې دي.
په افغانستان کې جنګي قوماندان په خپله يوه ټولنيزه طبقه ګرځيدلي ده.د جنګ جګړو پرمهال د دوی هدايات، د دوی اعتبار او د دوی وسله وال ځواک په پرلپسې توګه د قومي مشرانو په اغيز او مشروالي باندې خپله سيوره غوړولي ده. او دا لړۍ ترننه همداسي دوام لري. تر ټولو مهمه خبردا ده، چې د قوماندانو ډلې اود دوی مخکښ رول لړ تر لړه د پښتنو د راتلونکو دوو ځوانو نسلونو ته ورپاتي شو.
صحني ته د وسله والې ډلې داخليدلو سره د دوی اکثراً خپل کړه وړه او دندې د تشدد او زورزياتي له لارې په ځان ښودنه کې تر سره کوي. دوی د خلکو دودونو، نرخونو او د عنعنات تر پښولاندې کولو برسيره د مشرانو دوديزه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

حاکمیت ته هیڅ پاملرنه نه کوي.دوی په خپله خپل ځان ته نوې ارزښتونه رامنځ ته کوي .دا ارزښتونه د پخوانیو ارزښتونو سره په ټکر کې دي. د هرې وسله والې ډلې هر یوه غړي د خپلې ارادې د تحمیلو لپاره کافي ځواک لري، دوی د خپلو څو وسله والوکسانو په زور خپلو ناوړو اعمالو ته برآت هم ورکړي، دا هغه جرمي اعمال دي، چې پخوا به د پښتنو د مشرانو او سپین ږیر له خوا به په جرګو کې محکومیدل.

چیرته چې خبره دومره ډیره ورانه شي، د جرګو کانسپټ خپله مانا او د خپل توازون ساتلو قابلیت په خپله له لاسه ورکوي. همدارنګه پر ټولنیز مساوات او ټولنیز احساس باندې کنټرول لمنځه ځي.دا هغه څه دي، چې پخوا به جرګو د دغو ارزښتونو ساتنه کوله.

لیکوال لیکي. د کومو پښتنو سره چې ما په دې اړه خبرې اترې کړي دي. دوی ما ته د تشرح کولو پرمهال دا احساس راکولو لکه چې دوی هم د پخوا په څیر د لویدیځ په وحشت کې اوس ژوند کوي، چیر ته چې د امنیت او د شخصي ژوند د ساتني په اړه هیڅ راز ضمیر او وجدان شتون نه درلود .

د دغو ناوړو کړنو پایله دا شوه، چې ډیر دودیزه کړو وړه له منځه ولاړل شي، کومو چې په خلکو کې دوه اړخیزه اعتماد او اعتبار را منځته کولو.

د بیلګې په ډول میلمستیا، په پښتنه ټولنه کې د هر انسان میلمه پالنه کیږي، کله چې یو سړی د میلمه په توګه کور ته ورشي، طبعي خبرده چې په دې ډول د دغي ارزښت مخه نیول کیږي او دا ناشوني کیږي او په خپل کور کې میلمه پال سړی نامطمینه کیږي، چې د خپل میلمه امنیت او عزت په ریښتني توګه خوندي کولي شي او کنه، دا ارزښت په دې وجه ناشوني کیږي، ځکه چې کوربه کورنۍ د خپل میلمه د ساتلو او میلمه پالنې په بدل کې د انتقام.اخیستلو سره مخامخ کیدي شي. او یا.کله چې څوک په خپل کور کې د یو بهرني او یا یو بل ناسم میلمه میلمه پالنه وکړي. زور ور جګړه مار د خپلو عجیبو غریبو جنایاتونو په بدل کې هیڅ نه مجازات کیږي.دا ډول ناوړه جرایم مخ په زیاتیدو دي. د خوندې امنیت د نشتون له امله دا هم یو دلیل کیداشي،چې ښځه د خپل د کورنۍ د غړو له خوا لانوره وځارل شي.

څیړنوال د خپلي څیړنې په پای کې دې پایلې ته رسیږي، چې پښتونولي د ټولو لپاره یو منظم، تینګ او واحد سیسټم نه دی، چې په کې دا ټول حقوقي نورمونه او کړو وړو یو ډول وي. بلکې پښتونولي د یو ډینامیک قوت څخه ډک ځواک دی او یوه ځواکمنه بدلون موندونکي قانونغونډه ده او د یوې مورالي پرنسیبي قاعدي ټولګې په څیر ورته کتلي شو. د پښتنو دا قانونغونډه پخپلو اساساتو ولاړه ده. د پښتنو هره یوه ټولنه په خپلو کولتوري اساساتو او پرنسیبونو پر بنسټ ولاړه ده او پښتنې قبیلې پخپلو میراثي دودونو کې په قاعدوي ټوګه سره یوځای متحد ساتي.

افغانستان نن په دې هڅه کې دی، چې یوه نوي مډرنه او د لویدیځ په تصوراتو ولاړله دولتي اداره رامنځته کړي. دا به ډیره ګرانه پریوځي، چې د پښتونولي په قانونغونډه کې ټول خلاصه شوي نورمونه، دودونه او ارزښتونه ولیکل شي او بیا په نوې قانوني سیسټم کې ور داخل کړل شي.

کله چې ارزښتونه ټولنیز او حقوقي دودنونه او راوجونه ټاکي. او دا ارزښتونه د دولت د ایډیالوجیکي موډل سره مغایرت ولري، کوم چې دولت یې د ترلاسه کولو په لټه کې دی. دا به ناشوني وي، چې دغه دواړه عملي کړنې په دولتي سیسټم کې سره پخوله کړل شي

پای .

.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ